Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations

د محترم نصير احمد فايق وينا
په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د استازولۍ سرپرست

د بشري حقونو د شورا راپور
د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ یو اتیایمه غونډه

د ۲۰۲۶ کال د اکتوبر ۳۰مه

نیویارک

محترم رئیس صاحب،

د بشري حقونو د شورا له رئیس، سفیر سیدارتو رضا سوریودیپورو، څخه د شورا د راپور د وړاندې کولو له امله مننه کوو. د دې شورا له جوړېدو شل کاله وروسته، د بشري حقونو جدي سرغړونو ته په رسېدنه او د حساب ورکونې په پیاوړتیا کې د هغې رول تر بل هر وخت ډېر اهمیت لري. د افغانستان د خلکو لپاره د دې شورا کار ځانګړی ارزښت لري.

واک ته د طالبانو له پوځي راستنېدو پنځه کاله وروسته، د افغانستان خلک لا هم د داسې یوه ځپونکي نظام تر واکمنۍ لاندې ژوند کوي چې نړدې د هغوی د ژوند ټولو اړخونو ته یې لمن غځولې ده.

ښځې او نجونې له بنسټیز شوي تبعیض، جلاوالي او حذف سره مخ دي، چې د بشریت ضد جنایت مصداق دی. هغوی له زده‌کړو، کار او په عامه ژوند کې له ګډون څخه محرومې شوې دي؛ داسې وضعیت چې د هغوی پر کرامت، معیشت او راتلونکي ویجاړوونکې اغېزې لري.

خو ځپنه یوازې په ښځو او نجونو پورې محدوده نه ده. هزاره‌ګان، شیعه‌ګان او نور لږکي، خبریالان، د بشري حقونو مدافعان، پخواني امنیتي منسوبین او هغه عام وګړي چې له وسله‌والو مخالفینو سره په اړیکو تورنېږي، له خپل‌سرو نیونو، شکنجې، جبري تري تم کېدو، جبري بې‌ځایه کېدو او له محاکمې پرته وژنو سره مخ دي.

طالبانو د تبعیضي فرمانونو، پر بنسټیزو آزادیو د محدودیتونو او د قانوني خوندیتوبونو د له منځه وړلو له لارې، وېره، ګواښ او حذف د حکومتولۍ په وسیلو بدل کړي دي.

د بشري حقونو دا سرغړونې د یوه مخ پر خرابېدو سیاسي، بشري او اقتصادي بحران په ترڅ کې رامنځته کېږي. میلیونونه کسان پر بشري مرستو متکي دي، بېوزلي او بېکاري لا هم پراخه ده او ځوانان په زیاتېدونکي ډول له فرصتونو او راتلونکي ته له هیلې محرومېږي.

محترم رئیس صاحب،

په داسې شرایطو کې، افغانستان د بشري حقونو د شورا د ۱/۶۳ پرېکړه‌لیک هرکلی کوي چې په اجماع تصویب شو. له اروپایي ټولنې څخه د دې هڅې د مشرتابه او له ټولو هغو هېوادونو څخه مننه کوو چې د دې پرېکړه‌لیک له تصویب څخه یې ملاتړ وکړ.

دا پرېکړه‌لیک یو مهم پیغام لري: د افغانستان د خلکو اساسي حقونه د معاملې وړ نه دي او د بشري حقونو د جدي سرغړونو مسئولان باید حساب ورکړي.

موږ لاندې څلورو موضوعاتو ته ځانګړی اهمیت ورکوو:

لومړی، د خپلواکې څارنې دوام .موږ د ځانګړي راپور ورکوونکي، ښاغلي ریچارد بېنېټ، د ماموریت د تمدید هرکلی کوو او یو ځل بیا د هغه له کار څخه خپل بشپړ ملاتړ څرګندوو. طالبان باید افغانستان ته د هغه د خوندي او بې‌خنډه لاسرسي زمینه برابره کړي.

دويم، حساب ورکونه .مورِ د افغانستان لپاره د خپلواک تحقیقاتي میکانېزم د جوړولو په اړه د بشري حقونو د شورا د پرېکړې هرکلی کوو او غوښتنه کوو چې د کافي سرچینو او کارکوونکو په برابرولو سره ژر تر ژره خپل فعالیت پیل کړي.

همدارنګه، د جرمونو د نړیوالي محکمې له خوا د نیولو د حکمونو د صادرېدو او د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون «سېډاو» په چوکاټ کې د حساب ورکونې د تأمین لپاره د استرالیا، کانادا، جرمني او هالنډ د نوښت هرکلی کوو.

د بشري حقونو د جدي سرغړونو مسئولان باید په شي چې د تل لپاره له حساب ورکونې څخه ټېښته نه شي کولای. له مجازاتو څخه معافیت باید پای ته ورسېږي.

درېیم، پر اصولو ولاړ نړیوال تعامل .مورِ لا هم اندېښمن یو چې د بشري حقونو په برخه کې له مانادار پرمختګ پرته له طالبانو سره د تعامل دوام، د هغوی د تبعیضي تګلارو د عادي کېدو خطر له ځان سره لري.

تعامل باید د روښانه معیارونو، د اندازه کېدو وړ پرمختګونو او د افغانستان نړیوالو ژمنو ته د درناوي پر بنسټ پر مخ ولاړ شي. سیاسي تعامل باید د افغان ښځو او نجونو د اساسي حقونو په بیه تمام نه شي.

څلورم، نړیوال مسئولیت او سیاسي اقدام .بشري مرستې باید اړمنو ته ورسېږي او افغان ښځې باید په دې بهیر کې بشپړ ګډون ولري. همدارنګه، له هېوادونو غواړو چې د افغان کډوالو ساتنه وکړي، په جبري توګه د بېرته نه ستنولو اصل مراعات کړي او هغو خطرونو ته رسېدنه وکړي چې افغانان له هېواده بهر ورسره مخ دي.

په ورته وخت کې، باید ومنو چې د افغانستان د بشري حقونو بحران د دې هېواد له بنسټیز سیاسي بحران څخه نه شي بېلېدای. له همدې امله، یو ځل بیا د افغانانو په مشرۍ او د ملګرو ملتونو په اسانتیا برابرولو د یوه سیاسي بهیر غوښتنه کوو چې د ښځو، ځوانانو، لرکیو، مدني ټولنې او د خلکو د باوري استازو په مانادار ګډون سره، ټولشموله، استازي او حساب ورکوونکي حکومتولۍ ته لار هواره کړي. د افغانستان راتلونکی باید د دې هېواد د خلکو د ارادې او حقونو څرګندوی وي.

محترم رئیس صاحب،

د دې پرېکړهلیک د ارزوني رښتینی معیار به یوازې د کلمو او جملو پیاوړتیا نه وي؛ بلکې هغه بدلون به وي چې د افغانستان د خلکو په ژوند کې یې رامنځته کوي: دا چې آیا یوه نجلۍ ببرته ښوونځي ته تللی شي، یوه ښځه په آزادانه ډول کار کولای شي، یو قرباني عدالت غوښتلای شي او یو ځوان راتلونکي ته په هیله کتلای شي.

هغه ژمنې چې په ژنیو کې شوې دي، باید د اړینو سرچینو، دوامدارې پاملرنې او سیاسي ارادې په برابرولو سره، دلته په نیویارک کې په عملي اقدام بدلې شي.

مننه.